## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# د ماشومانو لوبې او اړیکې

### لوبه څه شی ده؟

- لوبې یوازې د هغه څه ترسره کوي دي چې د ساعتېرۍ لپاره کېږي، بله کومه موخه نه لري
- ماشوم د نړۍ په هر ګوټ کې لوبې کوي
- ماشومان په بېلا بېلو لارو لوبې کوي
- ماشوم باید پرېښودل شي چې لوبې وکړي
- ځینې لوبې کېدای شي لویانو ته نا آشنا یا ستړې کوونکې ښکاره شي، مګر ماشومان ترې خوند اخلي.

### لوبې ولې مهمې دي؟

- دا چې ماشومان لوبې کوي مهم دلیل یې ساعتېري ده
- مګر لوبې کول همدارنګه د زده کړې لپاره هم خورا مهم دي
- کله چې ماشومان لوبې کوي، هغوی د خپلې شا و خوا نړۍ په اړه زده کړه کوي. هغوی د لیدلو، اورېدلو او احساسولو له لارې زده کړه کوي.
- لوبې کول ماشومانو ته د خوندیتوب او خوشحالۍ احساس ورکوي. دا له هغوی سره مرسته کوي چې نوي مهارتونه زده کړي
- لوبې له ماشومانو سره مرسته کوي تر څو خبرې کول زده کړي او له نورو سره وي
- د لوبو لپاره کومه سمه یا ناسمه لاره نشته. لوبې له ماشومانو سره مرسته کوي چې مهارتونه تمرین کړي او لا یې ښه کړي.
- هغوی به دغه مهارتونه وروسته په رښتیني ژوند کې وکاروي.

### هغه مهارتونه چې ماشومان یې د لوبو په کولو سره زده کوي

ماشومان د لوبو په کولو سره بېلا بېل مهارتونه زده کوي. دا مهارتونه د هغوی له اړیکو او خبرو کولو سره مرسته کوي. ځینې مهم مهارتونه دا دي چې ماشومان کولای شي د لوبو له لارې یې زده کړي:

- علت او اغېز    د دې زده کول چې که تاسو کوم کار وکړئ، کوم بل څه به پېښ شي. (د بېلګې په توګه، کله چې یوه تڼۍ کېکاږئ یوه د لوبو وسیله را څرګندېږي.)
- د نوبت اخیستل    د خپل نوب اخیستلو زده کول (د بېلګې په توګه، د یوه توپ ګوزارول یا یوه ټاور ته د یوې خښتې اضافه کول)
- د لوبو تمثیل    له تصور کولو څخه په استفادې (د بېلګې په توګه، داسې ګڼل چې لرګی توره ده)
- ټولنیزه اړیکه    د دې زده کول چې له نورو سره باید څنګه وي او د لوبو له لارې له هغوی سره اړیکه جوړه کړي
- لوبې کول یوازې ساعتېري نه ده    دا له ماشومانو سره مرسته کوي تر څو مهم مهارتونه زده کړي.